AJSC
AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE

# د ۲۰۱۸ کال رپوټ

د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه

www.ajsc.af facebook.com/safetycommittee twitter.com/ajsc_afg

## لنډیز

په ۲۰۱۸ کال کې د افغان خوندیتوب کمیټې د خبریالانو او رسنیزو کار کونکو پرووړاندې د تاوتریخوالي ۱۲۱ پېښې ثبت کړې دي چې په دې کې د وژنو، ټپي کیدو،لنډ مهال بند، تښتونې... او نور شامل دي.

په دې کال کې ټول ټال ۱۷ خبریالان وژل شوي چې دا شمیره افغانستان یو ځل بیا د خبریالی د کار لپاره د خطرناکو هېوادونو د کتار په سرکې ودروي .

د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه د ۱۷ وژنو ترڅنګ، د ټپي کیدو ۱۵ ، وهل ټوکلو ۲۱ ، د ګواښلو ۲۸ ، د سپکاوي او بد چلند،۲۳ ، د لنډ مهال ۵ موردونه او د تښتونې او له سپکاوي سره یو ځای له دندې د ایستلو یو یو مورد ثبت کړي دي.

په ۲۰۱۸ کال کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالی ۱۲۱ مورده د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۳۸ سلنه کموالی ښیي څکه چې کمیټې په ۲۰۱۷ کال کې د خبریالانو او رسنیو کارکونکو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۱۶۹ پېښې ثبت کړې وې. دغه راز د وژنو شمیره هم د تیر کال په نسبت پنځلس سلنه کموالی ښیي څکه چې تیر کال خوندیتوب کمیټې د خبریالانو او رسنیو کارکوونکو د وژنو ۲۰ پېښې ثبت کړې وې. د خبریالانو د وژنو له ۱۷ پېښو څخه د پنځلسو هغو مسوولیت یې داعش او وسله وال طالبان پر غاړه لري او د دوو پېښو پړه هم د نا پیژانده وسله والو په غاړه دی.

د ۲۰۱۷ کال په شان سږ کال هم د تاوتریخوالي تر ټولو زیاتو پېښو یعنې پنځوسو قضیو څخه د ۴۱ مواردو مسوولیت داعش او وسله والو طالبان ته ورګرځي.

حکومت بیا په دویمه درجه کې ځای لري،له ۴۴ قضیو څخه د ۳۶ سلنې هغو مسوولیت یې حکومت ته متوجه کیږي.

نا پیژانده وسله وال په دریمه کټګورۍ کې دي، یعنې د ۱۶ پېښو مسوولیت ورله غاړې دی چې ۱۳ سلنه جوړوي.

د تاوتریخوالي د۱۲۱ پېښو څخه نهه مورده یې د ښځینه خبریالانو او د رسنیو کار کونکو پر وړاندې شوی.

د ۲۰۱۸ کال د ټولو پېښو ۴۲ مورده یې په کابل زون، ۲۲ مورده په لویدیځ زون، ۶ مورده په شمال زون،او ( ۸ ) مورده په ختیځ زون کې واقع شوي.

په دغه کال کې یو مهم بدلون دا هم دی چې د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د ګواښونو بڼې بدلون موندلی دی. تروریستي ډلې په دې لټه کې وې چې خبریالان په ډله ایزه توګه تر برید لاندې راولي. لکه څنګه چې په اپریل میاشت کې د کابل ښار په شش درک سیمه کې ددوی په یوه برید کې ۹ تنه خبریالان شهیدان شول او د کابل په لویدیځ کې د سپټامبر میاشت کې دوه کسه خبریالان شهیدان شول، چې دا پخپله د خبریالان او رسنیو پر وړاندې د ګواښونو د بدلون بیلګې دي.

زیاتره رسنۍ د خپلو خبریالانو او دفترونو د خوندیتوب لپاره منظم امنیتي تابیاوې نه لري. ددې ترڅنګ سره له دې چې د خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو بڼه بدله شوې خو بیاهم حکومت د تروریستي پېښو د خبري پوښښ پر مهال خبریالانو ته د زیان د کچې د را ټیټولو لپاره لازم ګامونه نه دي پورته کړي.

ګڼ شمیر خبریالانو هم د خوندیتوب هغه مهارتونه نه دي زده کړي کوم چې ددوی پرووړاندې د ګواښونو د کچې په را کمولو کې ګټور تمامیدای شي. د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د کتنې له مخې په کابل او یو شمیر ولایتونو کې هغه خبریالان چې له دغه ډول مهارتونو سره اشنا هم دي، دخوندیتوب موارد په سمه توګه نه مراعاتوي.

په ۲۰۱۸ کال کې ټول ټال د ۳۴ رسنیو خپرونې د بیلابیلو دلایلو له امله بندي شوي او فعالیت نه لري.

خو له نیکه مرغه ۵۷ رسنۍ نوې جوړې شوې او په ژورنالیستیکو فعالیتونو یې پیل کړی دی د بندو شویو رسنیو له جملې څخه چې فعالیتونه یې په ټپه دریدلي، یوه رسنۍ په شمال ختیځ زون کې ، پنځه رسنۍ په مرکزي زون کې ، ۴ رسنۍ په لویدیځ زون کې، یوه رسنۍ په ختیځ زون کې، ۲ رسنۍ په شمال زون کې او ۲۱ رسنۍ په کابل زون ( کابل،پروان،کاپیسا او پنجشیر ولایتونو) کې دي.

د هغو رسنيو له جملې څخه چې په دې کال کې تاسيس شوي او په فعاليت يې پيل کړی،پنځه رسنۍ،په شمال ختيځ کې،۴ رسنۍ په مرکزي زون کې، څلور رسنۍ په لويديځ زون کې، دوه رسنۍ په ختيځ زون کې، يوه رسنۍ په سويل لويديځ زون کې، پنځه رسنۍ په شمال زون کې، څلور رسنۍ په سويل ختيځ زون کې او ۲۲ رسنۍ په کابل زون کې دي.

د هغو ۳۴ رسنيو له جملې څخه چې له فعاليته لويدلي ، څلور يې تلويزونونه، ۱۰ يې راډيوګانې ، ۱۸ يې چاپي رسنۍ او ۲ نورې يې ان لاين رسنۍ دي.

د هغو ۵۷ رسنيو له جملې څخه چې په دې کال کې فعاله شوي او په خپرونو يې پيل کړی دی ۱۳ يې تلويزيونونه، ۱۳ يې راډيوګانې، ۲۵ يې چاپي او ۶ يې ان لاين رسنۍ دي.

معلوماتو ته نه لاسرسی لاهم د يوې لويې ستونزې په توګه لاهم د خبريالۍ د کار پروړاندې پر خپل ځای پاتې ده. ترڅو چې په اساسي توګه حل نه شي، د معلوماتو د رسونې کيفيت اغيزمن کوي او د خبريالۍ کار ستونزمن کوي.

## پيلامه

۲۰۱۸ کال هم د تيرو کلونو په څير د خبريالانو او رسنيو لپاره يو خونړی کال و، د تاوتريخوالي زياتوالی، ناامنۍ او بې ثباتي پر خبريالانو او رسنيزو بنسټونو منفي اغيزې درلودې.

لکه څنګه چې له دې امله د خبريالانو او رسنيو د فعاليت ساحه تنګه شوې او پر خبريالانو تېل شوی ځاني سانسور زيات شوی، ترڅنګ يې په دې کال کې د خبريالانو د تهديد بڼه هم بدله شوې چې دې کار پخپله د خبريالانو او رسنيو کارونه له هر وخته زيات محدود کړي دي. په اوسني وخت کې خبريالان په دې نشي توانيدلی چې تروريستي او د نا امنۍ پيښې په ډله ايز ډول له امنيتي تدابيرو پرته تر خبري پوښښ لاندې راولي. ددې کال په اوږدو کې د دوو ترهګريزو بريدونو په ترڅ کې چې په مستقيم ډول يې رسنيز کارکونکي او خبريالان موخه ګرځول شوي وو، ۱۱تنه خبريالان چې د ترهګريزو بريدونو د خبري پوښښ لپاره ساحې ته تللي وو، په دې پيښوکې شهيدان شول.

په وروستيو کلونو کې خبريالان او رسنۍ د جګړې د ښکيلو غاړو د پام په محراق کې وو، د طالبانو او داعشيانو ډلې په متواتر ډول هڅه کوي چې د رسنيو خبري اجنډا د خپلو فشارونو او ګواښونو له لارې د خپلو تبليغاتي پروګرامونو لپاره د خپل نفوذ او کنټرول لاندې راولي. حکومت هم په ځينو مواردو کې پر ځينو رسنيو د فشارراوړلو لامل شوی، چې کولی شو د ارمان ايف ايم راډيو له کارکونکو سره د ولسمشر د مرستيال وياند شاه حسين مرتضوي چلند د بيلګې په توګه ياد کړو.

په دې کال کې اقتصادي ننګونې چې زياتره رسنۍ ورسره لاس او ګريوان دي هم زيات شوي، چې زيات شمير رسنۍ يې د تړل کيدو تر پولو رسولي.

د افغان خبريالانو خونديتوب کميټې لخوا د شوې سروې له مخې په ټول هېواد کې ۳۴ رسنۍ د اقتصادي ستونزو له امله تړل شوې دي او اوس خپرونې نه لري. د مالي ستونزو زياتوالي د رسنيو د پايښت په تړاو جدي انديښنې را ولاړې کړې دي، هغه څه چې(رسنۍ) او د بيان ازادي د يوې نيمې لسيزې د لاسته راوړنو په توګه ياديږي. ددې ترڅنګ اطلاعاتو ته لاسرسی او د معلوماتو په ورکړه کې د حکومتي مسوولينو کمه همکاري لا هم خبريالانو او رسنيو ته دجدي ستونزې په توګه پرخپل ځای پاتې دي.

دا رپوټ په ۲۰۱۸ کال کې د خونديتوب پر مطالعې سربيره د خبريالي او رسنيزو کارونو مهم موارد او د معلوماتود رسونې موضوع هم په مختصر ډول رانغاړي.

د يادونې وړ ده چې د کميټې د پاليسۍ له مخې د خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي د پيښو ثبت هغه ډول ترسره شوی چې يوازې پيښو د خبريالۍ په کار پورې تړاو درلود او يا هم د ژورناليستيکو فعاليتونو پرمهال رامنځته شوې دي.

**په ۲۰۱۸ کال کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي او تهدیدونو څو بیلګې**

د ۲۰۱۸ کال د اپریل په ۳۰ مه له هغې وروسته چې یوه ډله خبریالان د کابل شش درک سیمه کې د شوي ځانمرګی برید د خبري پوښښ لپاره سره را ټول شوي وو، د بل ځانمرنګي برید هدف وګرځیدل چې په پایله کې یې نهه تنه خبریالان شهیدان او پنځه تنه نور ټپیان شول، دا پر خبریالانو لومړنی مستقیم برید و چې د ترهګریزو پیښو د خبري پوښښ پر مهال ورسره مخ شول.

د همدې کال د سپتامبر په پنځه نیټه کله چې د طلوع نیوز ټلویزیون خبریال او کمره مین د کابل په لویدیځ کې د شوي ځانمرګي برید خبري پوښښ لپاره ساحې ته ځي ، دخبري پوښښ پرمهال په موټر کې د ځای پرځای شویو چاودیدونکو موادو د چاودنې له امله په شهیدانیږي.

د جنوری په شلمه نیټه په غور ولایت کې د عدالت غږ راډیو سټډیو د نامعلومو وسله والو لخوا وسوځول شوه، کله چې ددغې راډیو ویاند پولیسو ته د پیښې په باب خبر ورکړ، په همدې تور د پولیسو لخوا ونیول شو او بندي کړای شو.

کمیټه چې له موضوغ خبریږي ، قضیه یي کابل ته را غواړي او دلته د لوی څارنوالی له لوري د قضیې حل کیدو پورې تر څارنې لاندې نیول کیږي.

د جنوری په ۲۵ نیټه په هرات کې د بانوان افغان خبري اژانس له لوري د هرات په محاکمو کې د شته فساد په اړه د خپاره شوي ریپورټ له امله ددغه رسنۍ مسوولین د هرات د محاکمو ریاست د رسمي مکتوب په اساس محاکمې ته احضار کړای شوي وو، په دې خاطر چې قانوني اړخ یې نه لاره د کمیټې په مداخلې سره موضوع حل شوه.


د جولای په ۱۹ مه د شمشاد راډیو تلویزیون خبریالانو کله چې غوښتل د دوو قومونو ترمینځ له نښتې، چې د تذکرو پر سر رامنځته شوې وه؛ ریپورټ جوړ کړي د وسله والو لخوا په مرګ وګوابنول شول او له خبریال څخه وغوښتل شو چې د جګړې د یوه لوري په ګټه ریپورټ خپور کړي، دا خبریالان د نوموړي زورواکي لخوا په موقت ډول تر توقیف لاندې ونیول شول، چې وروسته دا قضیه هم د خوندیتوب کمیټې په مداخلې حل شوه او خبریالان له بنده ازاد کړای شول.

## په ۲۰۱۸کال کې د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالي ۱۲۱ پېښې

### د تاوتریخوالو شمیرې د ډول له مخې

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۴٪ | ۱۹٪ | ۱۷٪ | ۱۲٪ |
| وژنې ۱۷ مورده | سپکاوی او بد چلند ۲۳مورده | وهل ټکول ۲۱مورده | ټپي کیدل ۱۵ مورده |
| ۱٪ | ۳۲٪ | ٤٪ | ۱٪ |
| له کاره ایستل ۱ مورد | کواښل ۳۸ مورده | نیونه او احضارول ۵ مورده | تبنتونه ۱ مورد |

### د تاوتریخوالو شمیر د افغانستان د بیلا بیلو زونونو په ترتیب




## د تاوتريخوالـو شـمير د جنسـيت لـه مخـې

نارينه ۱۱۰

ښځينې ۱۱




## د تاوتريخوالـو شمير د هيـواد د بيلابيلـو ولايتونـو په ترتيب



# د تاوتریخوالو عاملین

# ۲۰۱۸




| | |
|---|---|
| داعش او طالبان | ٪٤١ |
| دولت | ٪۳۷ |
| ناپیژانده کسان | ٪۱۳ |
| زورواکي افراد | ٪ ۵ |
| د رسنیو مسوولین | ٪٤ |

## د خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو د څرنګوالي بدلون

په ۲۰۱۸م کال کې د خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو د څرنګوالي بدلون یو له لویو ننګونو څخه و، ځکه په دغه کال کې مو د لومړي ځل لپاره پر خبریالانو او رسنیو مستقیمې حملې ولیدلې، چې دغه بریدونه د خبریالانو د ډله ایزو وژنو لپاره طرحه شوي وو.

د ۲۰۱۸ م کال د اپریل په ۳۰ مه ، پر خبریالانو په یو ترهګریز برید کې شا او خوا ۹ تنه خبریالانو ژوند له لاسه ورکړ. د همدې کال د سپټمبر په ۵ مه نیټه دوه تنه خبریالانو چې یو ترهګریز برید یې په ژوندۍ بڼه راپور کاوه، ووژل شول. د دواړو پېښنو هدف خبریالان وو. د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمېټې د تحلیل له مخې، د خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو د څرنګوالي بدلون لامل د خبریالانو پر وړاندې د ترهګریزو ډلو دښمني ده. د داعش ډلې په واضح او مستقیم ډول یو شمېر خبریالانو او رسنیو ته ګواښونه کړي او په یو شمېر مواردو کې یې د ننګرهار ولایت ځینې خبریالانو د کورنۍ ادرسونه ښودلي او هغوی ته یې د مرګ ګواښ کړی. دغه ترهګره ډله پر خبریالانو د ډېر شمېر بریدونو مسوولیت په غاړه لري.

کله چې طالب وسله واله ډله پوه شوه چې، خبریالان او رسنۍ ترهګریزو پېښنو ته د هغوی د میل او خوښې مطابق انعکاس نه ورکوي، نو د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې یې د دښمنۍ ور پرانیسته. د دغې دښمنۍ پیل په ۲۰۱۵م کال کې د طالبانو له لوري د کندز ښار سقوط پر مهال و، چې د کندز ښار تر سقوط وروسته طالبانو بېلابېلې رسنۍ تر ګواښ لاندې ونیولې. تر دې وروسته طالبانو طلوع او ۱ ټلویزیونونه د خپلو نظامي اهدافو په ډله کې شامل کړل او د ۲۰۱۶ م کال د جنورۍ په میاشت کې دغې ډلې د طلوع ټلویزیون د کارکونکو لېږدونکی موټر هدف وګرځاوه. تر دې وروسته د رسنیو پر ودانیو او خبریالانو انفرادي بریدونو دوام وموند چې په ۲۰۱۸ م کال کې د کابل ښار په شش درک سیمه کې د خبریالانو پر یوې ډلې برید یې تر ټولو بد او زړه بوږنونکی و.

د رسنیو او خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو په څرنګوالي کې بدلون په افغانستان کې د جګړې له پیچلتیا سره مستقیمه اړیکه لري. د سیمې یو شمېر هېوادونه او نړیوال قدرتونه په افغانستان کې پر جګړې بوخت دي او دا چې د دغې جګړې یوه لویه برخه نیابتي ده، دښمنې ډلې کوښښ کوي، څو په رسنیو کې د نفوذ له لارې د افغانستان په روانه جګړه کې خپلې ګټې تامین کړي.

پر رسنیو د نفوذ پیدا کولو هڅه د رسنیو پر وړاندې د ګواښونو یو بل اصلي لامل دی، هغه لاره چې طالبانو، داعش ډلې او د سیمې یو شمېر هېوادونه ورڅخه ګټه اخلي. دا په افغانستان کې د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د ګواښونو د څرنګوالي د بدلون یو بل دلیل دی، چې د خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو او تاوتریخوالي کچه یې ډېره اوچته کړې ده.

د کمېټې د تحلیل له مخې، د خبریالانو د وژلو خبري ارزښت یو بل دلیل دی چې، خبریالان د ترهګرو ډلو له لوري په نخښه کېږي، ځکه ملي او نړیوالې رسنۍ د خبریالانو د وژل کېدو خبرونو او راپورونو ته په لویه کچه انعکاس ورکوي. د ترهګرو ډلو د تبلیغاتي ستراتیژۍ یوه لویه برخه د خبرونو په سرټکو کې ځای نیول او په لویه کچه د دوی د فعالیتونو پوښښ دی. و ځکه، کله چې دوی د یو دوه خبریالانو په وژل کېدو سره ځان د خبرونو په سرټکو کې ویني او د دوی دغه ترهګریز فعالیت ته هم په لویه کچه انعکاس ورکول کېږي، نو پر خبریالانو او رسنیو بریدونو ته دوام ورکوي او وخت نا وخت رسنۍ او خبریالان په نخښه کوي.

د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د ترهګریزو ډلو په چلند کې د بدلون یو بل دلیل د معلوماتو په رسونه کې د رسنیو مهم رول دی، ترهګرې ډلې خلکو ته د معلوماتو رسول او د ولسونو پوهاوی د ځان په زیان ګوري، ترهګرو ډلو د غزني په ښار د برید پر مهال، لومړی په دغه ولایت کې د رسنیو آنټنونه لمنځه یوړل او د دغه ولایت د ملي ټلویزیون د آنټن کارمند یې شهید کړ. هغوی لومړی رسنۍ بندې کړې او بیا یې مخابراتي شبکو ته اور ورکړ. خلک په ټوله معنا په تیاره کې واقع شول او بیا هغوی د خپلو تبلیغاتو لپاره د شریعت غږ راډیو خپرونې پیل کړې.

د ګواښونو د څرنګوالي بدلون ته په پاملرنې چې خبریالان یې د ترهګریزو بریدونو په محراق کې واقع کړي، له یو څو محدودو

رسنيو پرته نورو رسنيو خپلو خبريالانو ته د زيان د کمولو لپاره هيڅ لازم اقدامات نه دي کړي، تازه په تازه د افغان خبريالانو د خونديتوب کمېټې د خبريالانو او رسنيو د خونديتوب او امنيت لارښود مسوده تدوين کړه. د خبريالانو پر وړاندې جرايمو د معافيت د ختمولو نړېوالې ورځې د نمانځنې او همدا رنګه پر دغه لارښود د بحث او بيا کتنې لپاره، کمېټې د ۲۰۱۸کال د نومبر په لومړۍ نېټه د حکومت د رسنيو په مرکز کې يوه هر اړخيزه ناسته جوړه کړه، چې پکې خبريالانو، د پلازمېنې او ولايتونو د رسنيو استازو، د ولسمشر دويم مرستيال ښاغلی سرور دانش او د افغانستان په چارو کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي تداموچي يماماتو ګډون کړی و.

د دغې ناستې په ترڅ کې د رسنيو او خبريالانو نظرونه راټول او په لارښود کې ځاي پرځای شول، ياد لارښود تر وروستي کولو وروسته د کابل او ولايتونو ټولو رسنيو ته واستول شو، د ياد لارښود يوه نسخه همداراز د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او همدارنګه د رسنيو، خبريالانو او کمېټې ګډې کمېټې ته هم واستول شو.

رسنيو او خبريالانو ته د خونديتابه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د افغان خبريالانو د خونديتوب کمېټې د کابل او ولايتونو خبريالانو لپاره روزنيز پروګرامونه جوړل کړل، څو د خبريالانو پر وړاندې د زيانونو راکمولو او ګواښونو سره د مقابلې لازم مهارتونه زده کړي. همدا راز د کمېټې د امنيتي چارو مشاور د ضرورت پر مهال، رسنيو سره د امنيتي تاسيساتو د جوړولو او د پاليسو او طرزالعملونو په جوړولو کې همکاري کوي، د دې ټولو سربېره، د رسنيو او خبريالانو پر وړاندې ګواښونه او د ترهګرو ډلو د بريدونو ګواښ لا هم پر ځای پاتې دی. يو شمېر هغه عوامل چې له امله يې رسنيو اونشو کړای خپلو خبريالانو ته د زيان اوښتو کچه را ټيټه کړي په لاندې ډول دي.

## د رسنيو ترمينځ جدي سيالی

د رسنيو د ډېروالي له امله، هره رسنی غواړي د خبر، ويډيو او انځور د ژر ترلاسه کولو او له نورو يې مخکې خپرولو کې مخکښ اوسي او ډېر مخاطبين جلب کړي. همدا سيالی سبب شوي چې، رسنی د پېښو په ژوندی بڼه خپرولو کې خپلو کې سيالي وکړي، څو وکولای شي خپل ليدونکي او مخاطبين وساتي. دا رقابت سره له دې چې مثبت دی، خو د يو ترهګريز بريد څخه د لومړي لاس راپور جوړول په هيڅ ډول د يو خبريال د ژوند له خطر سره مخ کولو ارزښت نه لري.

د خواشينې ځای دی چې، د رسنيو ترمينځ سيالی، د خپلو کارکونکو لپاره د مصونيتي تابياو په پام کې نه نيولو سره دوام مومي، ډېرې رسنی هغه خبريالان چې د پېښو سيمو ته لېږي، هغوی ته يې حتی هيڅ ډول د ځان ساتنې لومړني وسايل نه دي چمتو کړي، د خبريالانو دخونديتوب په برخه کې هيڅ ډول ښوونيزپروګرامونه يې هغوی ته ندي برابر کړي او حتی حاضر نه دي چې خپل خبريالان يو شمېر هغو ښونيزو پروګرامونو ته چې د خبريالانو د خونديتوب کمېټې له لوري جوړېږي واستوي او يا هم ډېرکله هغوی ته په دغو پروګرامونو کې د ګډون اجازه هم نه ورکوي.

ډېر شمېر رسنی چې خبريالان او يا کارکونکي يې د دندې پر مهال د خونړيو پېښو قرباني شوي، حتی حاضر نه دي چې د خپلو ټپي او زيانمنو همکارانو درملنه وکړي، دوی د خپلو هغو کارکونکو او همکارانو کورنيو سره هيڅ ډول مرستې نه دي کړي چې د دندې پر مهال قرباني شوي دي، څو د دوی کورنی وکولی شي، د هغوی پر معاش خپل ورځني ژوند ته دوام ورکړي.

له دې جملې يوازې طلوع ټلويزيون د هغو خبريالانو د حقونو د تامين په برخه کې روښانه پاليسي لري چې د خپلو مسلکي کارونو له امله ورته زيان اوړي، خو نورې رسنی بيا لا تر اوسه د دغې چارې د ترسره کولو لپاره کومه ژمنه نه لري.

## خبریالان او شهرت غوښتنه

سالمه سیالي د انسانانو د ژوند په ټولو چارو کې معمولي اصل دی او خبریالان هم له دې چارې مستثنا نه دي.

خبریالان د لومړي لاس خبر ترلاسه کولو او یا انځور اخیستلو لپاره هڅه کوي، تر ټولو لومړی ساحې ته ولاړ شي او خپل چمتو کړي مواد برابر او خپاره کړي. د معلوماتو د برابرولو په سر دا سیالی د دې لامل کېږي، چې دوی له ګواښونو او ستونزو سره مخ شي. تر ټولو د لومړي کس ځان ښودلو لېوالتیا د دې لامل کېږي، چې دوی د خبریالي سرې او مسلکي کرښې هم ماتې کړي او د مسلکي ژورنالیزم هغې مقولې ته هیڅ پام ونکړي چې: هیڅ خبر د خبریال د ژوند بایللو ارزښت نه لري.

هغه موارد چې پورته یې یادونه وشوه، په ۲۰۱۸ کال کې د خبریالانو او رسنیو د کارکونکو د مرګ ژوبلې لومړی درجه عوامل و.

په عامه ځایونو کې تروریستي بریدونه د ځینو نورو خبریالانو او رسنیزو کارکونکو د مرګ ژوبلې بل علت دی. د دغه ډول پېښو وروستۍ هغه یې په کندهار کې رامنځ ته شوه، چې په جنرال رازق د برید پر مهال د ملي تلویزیون کمره مین سلیم رحیم هم شهید شو.

## معلوماتو ته لاسرسی

په تېرو ۱۷ کلونو کې په افغانستان کې د بیان او رسنیو ازادي د افغان دولت تر ټولو ستره لاسته راوړنه ګڼل کېږي. د خبریالانو او رسنیو په هڅو په هېواد کې د بیان ازادي ځواکمنه شوې او په هر ډول شرایطو کې د ځواب ورکونې فرهنګ منځته راغلی او د همدې موخه د ترلاسه کولو لپاره یې زیاتې قربانۍ هم ورکړې دي.

معلوماتو ته لاسرسی د بیان د ازادۍ له مهمو اصلونو څخه دی، چې د اساسي قانون ۵۰مه ماده په دې اړه بشپړ صراحت لري. له بده مرغه دا اصل په هر اړخیزه توګه د حکومتي اړخ له لوري نه مراعتېږي. اطلاعاتو ته د لاسرسي فرهنګ نشتون او د تامین لپاره یې د حکومتي بنستونو کمزورې سیاسي اراده د خبریالانو د فعالیتونو پر وړاندې له عمده خنډونو څخه دي، چې د معلوماتو د ورکړې پر جریان یې منفي اغیزې درلودلې دي. که څه هم په ۱۳۹۳ کال کې ولسمشر اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون توشیح کړ او پر بنسټ یې د څارنې یو کمیسیون هم جوړ شو، خو معلوماتو ته د لاسرسي په برخه کې خبریالان لا هم له ګڼ شمېر ستونزو او خنډونو سره مخ دي.

معلوماتو ته د لاسرسي پر وړاندې خنډونه تر پلازمېنې محدود نه دي. په ولایتونو کې معلوماتو ته د لاسرسي کچه تر مرکز کابل په ډېر بد حالت کې ده. ننګرهار او هرات د بېلګې په توګه د یادونې وړ ولایتونه دي، چې خبریالان یې په ډېرو کمو او محدودو حالاتو کې معلوماتو ته لاسرسی لري. په ډېری ولایتونو کې خبریالان ادعا لري، چې د لوړ پوړو دولتي چارواکو د ناستو او غونډو معلومات له کوم مزاحمت او خنډ پرته په واک کې ورکول کېږي، خو د څېړنیزو راپورونو په اړه هیڅ ډول معلومات نه ورسره شریک کېږي. کله چې خبریالان په جنجالي او د فساد اړوند قضیو باندې راپورنه جوړوي، د حکومتي مسوولینو له لوري له منفي ځواب سره مخ کیږي.

له بده مرغه په ډېرى ولايتونو كې دا ستونزه لا هم حل شوې نه ده او حكومت په ۱۳۹۷ كال كې د دې ستونزو د حل اومعلوماتو ته د لاسرسي په برخه كې هيڅ ډول اسانتياوې رامنځته كړې نه دي. د افغان خبرياالانو خونديتوب كمېټې د دې ستونزې د حل او معلوماتو ته د لاسرسي په موخه په بلخ، كندز، ننګرهار، خوست، غزني، كندهار او هرات ولايتونو كې له حكومتي مسوولينو سره دوامداره ناستې ترسره كړي، ترڅو معلوماتو ته د لاسرسي قانون د نه پلي كېدو پر وړاندې پراته خنډونه له منځه يوسي.

دا په داسې حال كې ده چې په ۱۳۹۷ كال كې معلوماتو ته د لاسرسي دڅار كميسيون ۲۳ شكايتونه ثبت كړي او د دې كميسيون د مسوولينو په وينا د دوى په ډيټابيس كې ټول ثبت شوي شكايتونه حل شوي دي . د ۲۳ شكايتونو له جملې څخه غوڅ اكثريت يې څېړنيزو راپورونو په برخه كې د حكومتي مسوولينو نه همكاري او يا د كانونو د كېندلوپه شان د سترو پروژو د تړونونو په اړه د معلوماتو نه وركړه وه، چې حتا په ځينو مواردو كې د كميسيون سپارښتنې هم د حكومتي مسوولينو له لوري په پام كې نه دي نيول شوي.

په ۱۳۹۳ كال كې خپور شوى قانون پورته دلايلو ته په كتو او معلوماتو ته د لاسرسي په برخه كې شته ستونزو ته په پام سره له نړيوالو معيارونو سره سم تر كتنې لاندې ونيول شو او په ۱۳۹۷ كال كې د يوه تقنيني فرمان له مخې د ولسمشر له لوري توشيح شو.

په دې قانون كې معلوماتو ته د لاسرسي نوي معيارونه لكه د معلوماتو د افشا كونكو حقوقي خونديتوب، دمعلوماتو د وركړې په برخه كې په ټولو ادارو تاكيد، د معلوماتو د وركړې غوښتنليكونو الكترونيكي كول، د خپلواكې ادارې په توګه د كميسيون استقلاليت، د غوراوي كمېټې رامنځته كېدل او د بېلابېلو سرغړونكو په اړه د قضايي مواردو په څېر د يو شمېر كوډونو رامنځته كېدل هغه موارد دي، چې په نوي قانون كې ځاى وركړل شوى دى. پورته نويو اضافه شويو مواردو ته په كتو دا اټكلونه تضمينېږي، چې اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه كې شته خنډونه او يو شمېر ستونزې به له مخې لرې شي. د نوي قانون په تصويب كېدو او د دې قانون د تطبيق لپاره د نوي كميسيون له رامنځته كېدو وروسته بايد حكومت د دې كميسيون له كارونو څخه قانوني او سياسي ملاتړ وكړي.

## پایله

سربېره په دې چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي ارقام را ټیټ شوي، خو د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د تاوتریخوالي کچه ډېره لوړه شوې ده. د دې علت دادی چې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي بڼه بدله شوې او تروریستي ډلې غواړي د خبریالانو په ډلو بریدونه وکړي؛ دا تهدید باید جدي ونیول شي. په خبریالانو او رسنیو د تروریستي ډلو د هدفمندو بریدونو هڅو ته په کتو او د حکومت، رسنیو او خبریالانو له لوري د لازمو اقداماتو نشتون د رسنیو او خبریالانو د زیانمن کېدو کچه لوړه کړې ده.

د تاوتریخوالي ماهیت بدلون ته په کتو نه د افغانستان حکومت، نه رسنیو او نه هم خبریالانو د دې خطرونو د ټیټولو لپاره لازم او هر اړخیز اقدامات په نظر کې نیولي دي. له همدې امله لا هم ډېرې رسنۍ او خبریالان د خوندیتوب په برخه کې له جدي ګواښ سره مخ دي. د هېواد په کچه د تاوتریخوالي زیاتېدل او د جګړې نیابتي کېدل د دې لامل شوي، چې رسنۍ د ښکېلو ډلو د پاملرنې وړ وګرځي.

په لوړه کچه د تاوتریخوالي دوام د دې لامل شوی، چې رسنۍ ځاني سانسور ته مخه کړي او په ځانګړې توګه د هېواد په هغو سیمو کې چې د طالبانو نفوذ او ګواښونه زیات دي، د خبریالانو او رسنیو ترمینځ ځاني سانسور هم زیات دی. د هېواد په دې برخو کې ځاني سانسور د دې لامل شوی، چې د خبر رسوني ازادي او د رسنیو کار له ګواښونو سره مخ شي او د دې سیمو رسنۍ مجبوره دي هغه جنایتونه ډېر منعکس نه کړای شي، چې د دې ډلو له لوري ترسره کېږي.

د خوندیتوب لارښود چې د خبریالانو دخوندیتوب کمېټې له لوري چمتو شوی او له حکومت او امنیتي بنسټونو سره هم شریک شوی، تر اوسه د رسنیو او خبریالانو له لوري تطبیق شوی نه دی. دا لارښود د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې شته ګواښونو ته په کتو جوړ شوی او په پلي کېدو سره یې ډېرې خطرونه کمېدای شي.

سربېره په دې چې افغانستان معلوماتو ته د لاسرسي ډېر ښه قانون لري، معلوماتو ته د خبریالانو نه لاسرسی د ژورنالیستیکو فعالیتونو په لار کې له اصلي خنډونو څخه بلل کېږي. د دې ستونزې د نه حل په صورت کې خبریالان مجبورېږي ترڅو د معلوماتو د ورکوني غیر رسمي منابعو ته مراجعه وکړي او دا د رسنیو له لوري په خپرېدونکو ارقامو کې د بیا بیا تیروتني لامل کېږي.

له ځانګړي بودجې سره د خپلواک بنسټ په توګه د کمیسیون رامنځته کېدل معلوماتو ته د لاسرسي پر وړاندې د شته ستونزو د حل په برخه کې مثبت ګام دی. دا کمیسیون له بشپړو صلاحیتونو سره په کابل کې فعالیت کوي او په ولایتونو کې یې هم استازولی فعاله دي.

سربېره پر دې چې رسنۍ له بېلابېلو خنډونو په ځانګړې توګه له مالي ستونزو سره مخ دي، خو بیا هم په دې کال کې ۵۷ نویو رسنیو په فعالیت پیل کړی، ۳۴ نورې د بېلابېلو عواملو په ځانګړې توګه د مالي ستونزو له امه تړل شوې دي. د هېواد د رسنیو له جملې څخه ۲۳ رسنۍ داسې دي، چې نویو جوړېدونکو رسنیو لپاره د هیلمندۍ سمبول ګرځېدلي.

## وړاندیزونه او سپارښتنې

د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې تاوتریخوالی جدي دی او په دې برخه کې باید کلک عملي تدابیر ونیول شي. د افغانستان حکومت باید له دې ګواښونو سره جدي چلند وکړي او د ګواښونو او خطرونو د ماهیت د بدلون په صورت کې په شته امنیتي تدابیرو له سره کتنه وکړي او له رسنیو او خبریالانو سره د همغږۍ په موثرو میکانیزمونو کار وکړي؛ خو حکومت هیڅ وخت نشي کولای د امنیتي همکارۍ په پلمه رسنۍ تر خپلې اغېزې لاندې راولي او د دوی نشراتي اجنډا کې نفوذ وکړي. رسنۍ له امنیتي بنسټونو او د افغان خبریالانو خوندیتوب کمېټې سره په همغږۍ باید د خوندیتوب لارښود چې د کمېټې له لوري جوړ شوی دی په دقت او جدیت عملي کړي او د تخنیکي اړتیا او مرستې په صورت کې د خوندیتوب کمېټې ته مراجعه وکړي. خبریالان دې هم دا لارښود په دقت ډول ولولي او د ژورنالیستیک فعالیت په جریان کې دې په لارښود کې شته موارد په جدي ډول په پام کې ونیسي. په دې لارښود کې د خبریالانو او رسنیو د خوندیتوب په برخه کې ټول امنیتي موارد په تشریحي او مفصل ډول راغلي دي.

د خبریالانو او رسنیو د خوندیتوب د تامین او د شته ګواښونو د له منځه وړلو لپاره لازمه ده، چې د رسنیو، خبریالانو، امنیتي بنسټونو او د رسنیو د ملاتړ ادارو ترمینځ د امکان تر کچې همغږي رامینځته شي، ځکه د تاوتریخوالي کچې په زیاتېدو او د دې ګواښونو په را ټیټېدو کې د رسنیو، خبریالانو او شته ادارو ترمینځ همغږي ډېره اړینه ده. که د خبریالانو او رسنیو پر وړاندې د تاوتریخوالي کچه ټیټه او ختمه نشي، د بیان د ازادۍ او د خبریالانو راتلونکي له جدي ګواښونو سره مخ کېدای شي.

خبریالان باید د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې په روزنیزو پروګرامونو کې چې په وړیا توګه جوړېږي، ګډون وکړي. د رسنیو مسوولین باید خپلو خبریالانو ته اجازه ورکړي چې په دغو پروګرامونو کې برخه واخلي او د خوندیتوب اړین اساسات زده کړي. د خوندیتوب په اړه لارښوونې کولای شي چې تر ډېره بریده د خبریالانو پروړاندې خطرونه راکم کړي. ترڅنګ یې خبریالان باید په ډله ایزه توګه د پېښو د پوښښ برخه کې له محافظوي تابیاوو پرته ډډه وکړي، پرته له هغو حالاتو چې سیمه د امنیتي ځواکونو له خوا مسدوده شوې وي او د نورو کسانو د تګ راتګ مخنیوی وشي.

حکومت باید ژرترژره د خبریالانو له خوا د تروریستي پېښو د خبري پوښښ لارښود پلی کړي ترڅو خبریالان وکولای شي تروریستي پېښې په خوندي توګه ترخبري پوښښ لاندې راولي.

حکومت باید خپلې ټولې هڅې معلوماتو ته د لاسرسي د قانون د هراړخیز تطبیق لپاره ترسره کړي. ددغه قانون اغیزناک پلي کول نه یوازې دا چې خبریالانو ته اسانتیا برابروي بلکې د اداري فساد د راکمونې په برخه کې هم یو مهم ګام بلل کیدای شي.

نړیواله ټولنه باید د رسنیو او بیان آزادۍ ته د خپلو کارونو په لومړیتوب کې ځای ورکړي، او یوشمیرپراختیایي پروګرامونه دهغو رسنیو لپاره ترلاس لاندې ونیسي چې له جدي مالي ستونزو سره مخ دي. نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د بیان د ازادۍ او رسنیو د پرمختګ په برخه کې مهمه ونډه لرلې ده، چې خپله نړیواله ټولنه ، د افغانستان حکومت او د افغانستان خلک ورباندې ویاړي، نو نړیواله ټولنه باید پرېنږدي چې مالي او امنیتي ستونزې د افغانستان د یوې لویې لاسته راوړنې د زوال لامل شي. نړیواله ټولنه باید د خبریالانو خوندیتوب او په دې اړه له افغان حکومت او په ځانګړې توګه امنیتي بنسټونو سره کارکولو ته د خپلو کارونو په اجنډا کې ځای ورکړي.